

## که چېرې د خپلې قضيې په اړه اندېښنې لرم، چې د FVS له کار کوونکي سره د حل وړ نه وي، نو په دې صورت کې له چا سره اړيکه ونيسم؟

که چېرې خپلې قضيې ته د رسيدنې د څرنګوالي په اړه شکايت يا اندېښنې لرئ، د خپل FVS قضيې د کار کوونکي له سوپروايزر سره اړيکه ونيسئ. که چېرې ستاسو اندېښنو ته اوس هم ځواب نه دی ويل شوی، تاسو کولای شئ د خپلې سيمې له مدير سره اړيکه ونيسئ.

- همداراز تاسو کولای شئ هر وخت د مرستې لپاره *Constituent Relations* (د موسسې د اړيکو) له دفتر سره د *800-723-4831* او *360-902-8060* شمېرو سره اړيکه ونيسئ او يا تاسو کولای شئ د کورنۍ او ماشومانو دفتر *Ombuds* سره د *800-571-7321* شمېرې له لارې اړيکه ونيسئ.

د *Ombuds* دفتر د *Department of Children, Youth, and Families* (د ماشومانو، ځوانانو او کورنيو د ډيپارټمنټونو) د فعاليتونو اړوند اندېښنې او شکايتونه ترلاسه کوي. دوی د اندېښنو د ارزولو صلاحيت لري.

Washington State Department of
CHILDREN, YOUTH & FAMILIES

DCYF 22-1751 PA (1/19) Pashtu

# Family Voluntary Services (د کورنۍ رضاکارانه خدمتونه)

د کورنۍ د پياوړي کولو پر مهال د ماشومانو خوندي ساتل



## د Family Voluntary Services (کورنۍ رضاکارانه خدمتونه ,FVS) څه شی دي؟

FVS یو پروګرام دی چې له والدینو سره مرسته کوي تر څو د خپل ماشوم د خوندیتوب، روغتیا او هوساینې د اړتیاوو اړوند خدمتونو کې ګډون وکړي.

د FVS موخه د ماشومانو خوندي ساتل او د کورنۍ د پیاوړي کولو او یو ځای ساتلو پر مهال د هغوی د اړتیاوو پوره کول دي. هر وخت کیدای شي تاسو پریکړه وکړئ چې له FVS سره نور کار ونه کړئ. که چیرې تاسو غوره کړل چې د FVS خدمتونه بند کړئ، د Department of Children, Youth, and Families (د ماشومانو، ځوانانو او کورنیو ډیپارټمنټ ,DCYF) به په دې صورت کې د خوندیتوب او خطر کچه و ارزوي او پریکړه به وکړي چې آیا قضیه وتړي او یا د تړاو لرلو غوښتنه ترسره کړي.



## تاسو د خپلې FVS قضیې له کار کوونکي څخه څه تمه لرئ

- تر څو ستاسو او د ماشوم سره مو په درناوي چلند وشي.
- تر څو ستاسو سره کار وکړي او د ماشومانو د خوندیتوب لپاره مو پلان جوړ کړي او ډاډ ترلاسه کړي چې ستاسو ماشوم هغه څه لري چې ورته اړتیا لري.
- تر څو تاسو ته هغه خدمتونه وړاندې کړي چې په ځانګړې توګه ستاسو او د کورنۍ لپاره مو دي.
- تر څو ستاسو له ماشومانو سره ستاسو په کور کې په میاشت کې یو یا دوه ځلې په خصوصي ډول وویني.
- تر څو په میاشت کې یو ځل ستاسو سره په کور کې له وړاندې د خبر ور کولو او یا په ناخبره توګه وویني اومختګ او خنډونو په اړه بحث وکړي.
- تر څو د خدمتونو له چمتو کوونکي، د ټولنې له همکارانو، کورنۍ او ملګرو (ستاسو په اجازه) سره ستاسو د لیدلوري او کورني پرمختګ په اړه اړیکه ونیسي.
- تر څو ستاسو سره د کورني تاوتریخوالي او ستاسو په کورنۍ کې د خطر د نورو عواملو په اړه خبرې وکړي.
- تر څو د پلي کیدو په صورت کې تاسو ته د ماشوم د خوندیتوب په اړه زده کړې در کړي.
- که چیرې ستاسو د ماشوم په اړه په سوداګریزه توګه د جنسي استثمار شک موجود وي، دا ارزونه بشپړه کړئ او هغه خدمتونه وړاندې کړئ چې له تاسو سره مرسته کوي.

## د FVS د قضیې کار کوونکي له ستاسو څخه څه تمه لري

- تر څو د ارزونې په پروسه کې ګډون وکړئ او ستاسو د ماشومانو د خوندیتوب په موخه د یو پلان په جوړولو کې مرسته وکړئ.
- تر څو د خوندیتوب پلان تعقیب کړي (که چیرې تاسو یې ولرئ).
- په خدمتونو کې ګډون وکړئ تر څو ستاسو ماشومان خوندي وساتي او د ځورونې او ناغیرۍ خطر را کم کړي.
- تر څو د FVS کار کوونکي ته اجازه ور کړئ چې ستاسو له ماشوم سره په خصوصي ډول وویني.
- تر څو د FVS د قضیې له کار کوونکي سره په منظم ډول وویني.
- تر څو د FVS د قضیې کار کوونکي ستاسو په حالت کې د هر ډول حالت څخه خبر و اوسي.
- تر څو ستاسو او د ماشوم لپاره مو د معلوماتو افشا کول لاسلیک کړي.
- تر څو په خورا درناوي سره ډاډ ترلاسه کړو چې د قضیې کار کوونکی ستاسو د کورنۍ حالت، اړتیاوې او شرایط درک کوي.



## FVS څه ډول کار کوي؟

که چیرې DCYF ستاسو کورنۍ د ماشوم د ځورونې، د هغه/هغې پر وړاندې د بې پروایئ او یا د لوړ خطر لرونکو چلندونو د ادعاګانو له امله وپلټي په دې صورت کې کیدای شي FVS د لاندې مواردو وړاندیز وکړي چې:

- په راتلونکي کې د ځورونې او یا ناغیرۍ په اړه اندیښنې شتون ولري او یا
- ستاسو د ماشوم لپاره اوسمهال د خوندیتوب اندیښنې شتون ولري.

همداراز کورنۍ کولای شي د اړتیا په صورت کې له DCYF سره په اړیکې نیولو سره د FVS د خدمتونو غوښتنه وکړي.